بسم الله الرحمن الرحیم

قوهٔ قضائیه

# جریده میزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

شنبه ۱۹ لړم ۱۴۰۳ هـ ش | ۷ جمادی الأولی ۱۴۴۶ هـ ق | ۹ نومبر ۲۰۲٤ م | مسلسله شمېره (۸۱)

**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تيری ونه کړئ.
زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.

تفسير کابلی، ج ۲، ص ۱۳۰۳

## د سترې محکمې د جزا دېوان عمومي رئيس پروان ولايت ته د سفر پر مهال د قتل اړوند (۱۴) دوسيې حل او فصل کړې

د سترې محکمې د جزا دېوان عمومي رئيس محترم مفتي عتيق الله (درويش) چې د ياد دېوان مفتي صاحبانو (مفتي عبدالحی شاکر او مفتي فضل الرحمن قاسمي) يې ملتيا کوله د روان ۱۴۴۶هـ ق کال د ربيع الثاني مياشتې په ۲۵مه نېټه د يو شمېر جزائي دوسيو د حل او فصل په موخه پروان ولايت ته سفر وکړ.

د جزا دېوان عمومي رئيس او ورسره مل پلاوي د دغه دوه ورځني سفر پر مهال د پروان مرافعه محکمې له رئيس او اړوند نورو محاکمو له قضائي غړو سره وکتل؛ په دې لیدنه کې د قتل اړوند (۱۴) دوسيو د حل او فصل په اړه لازمي تفصيلي خبرې وشوې.

دغه راز محترم مفتي عتيق الله (درويش) او ورسره مل پلاوي د يادو دوسيو اړوند ټولو زندانيانو سره په جلا جلا ډول وکتل او له دوی يې د اړوند مواردو په اړه بشپړ تحقيقات وکړل.

د سترې محکمې د جزا دېوان عمومي رئيس د دغه سفر پر مهال د پروان ولايت د محاکمو قضائي مسؤولينو ته هدايت وکړ چې د مراجعينو دوسيې د شرعي احکامو په رڼا کې په ټاکلي وخت حل او فصل کړي.

د جزا دېوان عمومي رئيس د دغه سفر په پايله کې د قتل اړوند (۱۴) دوسيې تر بشپړو څېړنو وروسته د شرعي احکامو په رڼا کې حل او فصل شوې.

## با تلاش مسؤولین محکمهٔ مرافعهٔ ولایت کاپیسا یک قضیهٔ قتل (۱۳) ساله حل و فصل گردید

با تلاش رئیس محکمهٔ مرافعه و مسؤولین دیوان‌های مرافعه و شهری ولایت کاپیسا یک قضیهٔ قتل که (۱۳) سال قبل از امروز در قریهٔ یاروخیل ولایت کاپیسا به وقوع پیوسته در نتیجهٔ آن دو تن کشته و یک تن مجروح گردیده بود، به تاریخ ۱۹ /۴ /۱۴۴۶هـ ق از طریق صلح و هماهنگی حل و فصل گردید.

در این جلسه مولوی عزیزالرحمن (حقانی) رئیس محکمهٔ مرافعه، مولوی عبدالرؤف سعادت رئیس محکمهٔ شهری، اعضای قضائی، مسؤولین ادارات امارتی و جمعی از مردم ولایت کاپیسا حضور داشته‌اند.

در ابتداء جلسه رئیس محکمهٔ مرافعه خطاب به مردم گفت، الحمدلله امروز نظام اسلامی حاکم است، این نظام یک نعمت الهی است، شکر آن بر همهٔ ما شما لازم است، این آرمان و ارزوی دیرینهٔ هر افغان بود، که الحمدلله با مجاهدت مجاهدین تحقق یافت.

موصوف افزود، جای شکر است که زعیم ما عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله) شخصیت روحانی و ایمانی است، که شورای اهل حل و عقد بالای آن انگشت صحت گذاشته‌است.

رئیس محکمهٔ مرافعه اضافه نمود، وقتی نظام شرعی است و امیر ما نیز شرعی است، قطعاً هر فرمان و تصمیم که صادر می‌شود بر وفق شریعت و به نفع ملت مظلوم افغانستان می‌باشد؛ درد و مشکلات مردم را عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله) بیشتر حس کرده‌است و از همه مشکلات آگاهی دارد.

رئیس محکمهٔ مرافعه در ضمن اشاره نمود وقتی در فرامین عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله) نظراندازی شود، در آن بر وحدت و اخوت امر نموده‌است، اخوت یک کلمهٔ مقدس است وقتی بحث از اسلام و مسلمان بودن باشد، دیگر نباید تاجک، پشتون، ازبک و پشه یی مطرح شود، بهتر بودن در اسلام با تقوا بودن است، باید در این زمینه کار گرفته شود و در جامعه نهادینه شود.

در اخیر جلسه رئیس محکمهٔ مرافعه برای هر دو طرف در مورد بخشش، صلح و عفوه سخنرانی مفید نمود.

جلسه با صلح و اشتی دو طرف و دعاء خیر خاتمه یافت.

## د سترې محکمې اړوند د قضائي زده کړو عمومي رياست په انګړ کې له شاوخوا (۵۰۰) متقاضيانو څخه قضائي ازموينه واخيستل شوه

د سترې محکمې اړوند محاکمو په قضائي بستونو کې د وړ او مسلکي کسانو د جذب او ګمارنې په موخه په (۳۰ /۴ /۱۴۴۶هـ ق) نېټه د سترې محکمې د نظامي معاون محترم شيخ خيرجان خيرخواه، د سترې محکمې اداري معاون محترم شيخ عبدالمالک حقاني، د سترې محکمې د بشري سرچينو عمومي رئيس محترم مولوي سيف الله آغا، د سترې محکمې د مالي او اداري چارو عمومي رئيس محترم مولوي کريم الله زاهد، د سترې محکمې د قضائي زده کړو عمومي رئيس محترم شيخ قيام الدين قانت، د سترې محکمې د استخدام او سوانحو رئيس محترم مولوي عبدالوارث سعيد او نورو مسؤولينو په موجوديت کې له شاوخوا (۵۰۰) کسانو څخه قضائي ازموينه واخيستل شوه.

د يادې ازموينې په پيل کې چې د قضائي زده کړو عمومي رياست په انګړ کې واخيستل شوه، د سترې محکمې اداري معاون محترم شيخ عبدالمالک (حقاني) د دې ازموينې د موخو او ګټو په تړاو هر اړخيزې خبرې وکړې وويل، ياده ازموينه د هېواد په قضائيه قوه کې د مسلکي او وړ کسانو د جذب او کار اهل کار ته د سپارلو په موخه اخيستل کېږي.

د سترې محکمې اداري معاون د ازموينې د بشپړ شفافيت په اړه د ډاډ څرګندولو ترڅنګ زياته کړه، د دې ازموينې په پايله کې به وړ کسان مشخص او د سترې محکمې اړوند اداروکې به په خدمت وګمارل شي.

د ازموينې ګډونوالو هم د ياد بهير له بشپړ شفافيت او نظم څخه خوښي څرګنده کړه وويل، خوشحاله يو چې د هېواد قضائيه قوې په چوکاټ کې هېوادوالو ته د خدمت کولو په موخه راته دغه فرصت برابر شوی دی.

د ازموينې يوه ګډونوال مولوي محمد اشرف (قدوسي) وويل، د خپلې دېرش کلنې علمي تجربې په اساس ازموينې ته چمتو او ګډونوال يې وم، پوښتنې زموږ له مسلک سره سمې چمتو شوې وې او ازموينه په ټولو اصولو برابره او پوره شفافه واخيستل شوه.

دغه راز د مولوي جاويد (فاروقي) په نوم بل ګډونوال د يادې ازموينې په اړه وويل، ازموينه په پوره شفافيت او نظم واخيستل شوه چې د ممتحنينو او نظارت غړو له لوري څارل کېده او د ډېرو آسانتياوو او اصولو په پام کې نيولو سره ډاډمن يم چې حق به حقدار ته رسېږي.

د يادونې وړ ده چې ياده ازموينه د سترې محکمې د ازموينو د با صلاحيته کمېټې لخوا ترتيب او په بشپړ شفافيت پای ته ورسېده.



**په نبوي دوره کې د ځينو قاضيانو يادونه:**

**۵- عتاب بن اسيد ﵁**

**دويمه برخه**

عتاب ﵁ تل په مکه کې اوسېدی، تر هغه چې رسول الله ﷺ رحلت وکړ او بيا ابو بکر صديق ﵁ هم خپل پر مسؤوليت پرېښودی، تر هغه چې وفات شو.

د واقدي په قول عتاب ﵁ هغه ورځ وفات شو، په کومه ورځ چې ابو بکر صديق (رضي‌الله عنه) وفات شو او دغه قول د عتاب ﵁ له اولادونو څخه هم را نقل دی.

او محمد بن سلام او ځيني نور وايي چې د ابوبکر صديق ﵁ مړی هغه ورځ مکې ته راغلی، چې عتاب ﵁ وفات شو.

طياليسي او بخاري په خپل تاريخ کې د ايوب له لارې د عبدالله بن يسار، هغه د عمرو بن العاص بن ابي عقرب څخه نقل کړی دی: چې ما د عتاب بن اسيد څخه په داسې حالت کې واورېدل، چې بيت الله شريفې ته يې ملا تکيه کړې وه، وويل:« په الله ﷻ قسم يادوم، په کوم مسؤوليت چې رسول الله ﷺ زه ټاکلی وم، ددغه دوو ګنډل شويو جامو څخه پرته مې هېڅ ترلاسه نه کړه، چې هغه به ما د خپل مريي کيسان سره اغوستل.

(ددې حديث سند حسن دی).

اخذليک: تتمة النظام، ۴۸ صفحه، تأليف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

## د قضائي تفتیش عمومي ریاست مفتشینو د بلخ ولایت له محاکمو او مرکزي زندان څخه لیدنه وکړه

د سترې محکمې د محترم مقام په هدایت د محترم مولوي امان الله (حامد) په مشرۍ د قضائي پلټنې یوه پلاوي چې مولوي عبدالولي (مصباح) او مولوي بخت الله (مدني) په کې د غړیو په توګه دنده لرله، د روان ۱۴۴۶ هـ ق کال د ربیع الاول میاشتې په ۳۰ مه نېټه د بلخ ولایت د محاکمو د تېرو فعالیتونو د څېړنو په موخه یاد ولایت ته سفر وکړ.

یاد پلاوي د سفر او لیدنې په پیل کې د بلخ ولایت د مرافعه محکمې له محترم رئیس سره وکتل، ورپسې یې د بندیانو ستونزو د څېړلو په موخه د یاد ولایت له مرکزي زندان څخه لیدنه وکړه، د یاد زندان اړوند د ټولو بندیانو بشپړ شهرت، کیفیت، شکایتونه، ستونزې یې له ځان سره ولیکل او بیا یې له اړوند محاکمو سره شریک کړل.

د سترې محکمې د عالي مقام لخوا ټاکل شوي پلاوي د خپل کاري پلان له مخې د یاد ولایت د (۱۶) ولسوالیو له ابتدائیه محاکمو، د ښاري او مرافعه محاکمو اړوند دیوانونو، د وثایقو آمریت، حقوقو مدیریت او ځانګړې محکمې څخه په جلا جلا ډول لیدنه وکړه.

دغه پلاوي د څارنې بهیر په ترڅ کې د یادو محاکمو له قضائي، اداري او مالي چارو هر اړخیزه پلټنه وکړه، د محاکمو د قضائي او اداري پرسونل د سلوکي او مسلکي اړخونو معلومات یې واخیستل او د چارو د سمون په برخه کې یې ورته لازمي لارښوونې وکړې.

د قضائي تفتیش پلاوي د محاکمو اړوند شته ستونزې، کاري خنډونه او لوژستیکي نیمګړتیاوې له ځان سره ولیکل او د لیدنې په وروستیو کې یې د ستونزو د حل، خنډونو د له منځه وړلو، د شته نیمګړتیاوو د اکمال په اړه د بلخ ولایت د مرافعه محکمې د ریاست له مقام سره تفاهمي ناسته وکړه او ځینې ستونزې یې په جلا جلا توګه ورسره شریکې کړې.

یاد پلاوي د بلخ ولایت د محاکمو په وړاندې د شته ستونزو دقیقه او هر اړخیزه څېړنه وکړه.

د قضائي تفتیش د څارنې او پلټنې پلاوي یاد له لاسته راوړنو ډک سفر د ۱۴۴۶ هـ ق کال د ربیع الثاني میاشتې په ۲۳ مه نېټه پای ته ورسېده.

## په خوست ولایت کې اوو مجرمینو او لسو متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د خوست ولایت د ښاري ابتدائیه محکمې د جزا دیوان د پرېکړې په اساس په ۲۰/ ۴/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه اوو کسانو ته د نامشروع اړیکو په جرم او لسو کسانو ته د لواطت او غلا په تور په عام محضر کې تعزیري سزا ورکړل شوه.

ابتدائیه محکمې د یادو کسانو له ډلې درې مجرمین پر یوه کال او ۸ میاشتې تنفیذي بند او ۳۹- ۳۹ دُرو تعزیري سزا، درې مجرمین پر شپږ- شپږ میاشتې تنفیذي بند او له ۲۵ تر ۳۰ دُرو تعزیري سزا، اووم مجرم پر لس میاشتې تنفیذي بند او ۳۹ دُرو تعزیري سزا، نهه متهمین پر یوه- یوه کال تنفیذي بند او له ۳۰ تر ۳۹ دُرو تعزیري سزا او وروستی متهم پر یوه کال او پنځه میاشتې تنفیذي بند او ۳۹ دُرو تعزیري سزا محکوم کړی و.

د تعزیري سزا د تطبیق په موخه جوړه شوې غونډه کې د مرافعه محکمې عمومي رئیس مفتي امین الله (منیب)، د ښاري ابتدائیه محکمې رئیس مولوي نقیب الله (ذاکر)، قضائي، اداري، نظامي منسوبینو او عامو هېوادوالو ګډون درلود.

یاد حکم د سترې محکمې د عالي مقام له تائید وروسته پر مجرمینو او متهمینو تطبیق شو.

## د سترې محکمې د دعوت او ارشاد ریاست پلاوي د هېواد د ټولو ولایتونو د مرافعه محاکمو لپاره د دعوت او ارشاد برخې آمرین وټاکل

د سترې محکمې د دعوت او ارشاد رئیس محترم حافظ مولوي عبدالعزیز (میوندي) په مشرۍ د یاد ریاست پلاوي د هېواد د ټولو ولایتونو د مرافعه محاکمو لپاره د دعوت او ارشاد برخې آمرین وټاکل.

د دعوت او ارشاد ریاست پلاوي په دې موخه ټولو ولایتونو کې له علماء کرامو څخه آزموینې واخیستې او د دوی له ډلې یې یو- یو ممتاز کس د هر ولایت د مرافعه محکمې لپاره د دعوت او ارشاد برخې د آمر په توګه وټاکه.

دغه راز یاد پلاوي د خپل سفر پر مهال د یادو ولایتونو د مرافعه، ښاري ابتدائیه او نظامي محاکمو له مسؤولینو، منسوبینو او دغه راز د نظامي قطعې له منسوبینو سره جلا، جلا اصلاحي غونډې وکړې.

په دې اصلاحي غونډو کې د یاد پلاوي لخوا ګډونوالو ته د تقوا، اخلاص، صداقت، علم، ور سپارل شوو مسؤولیتونو په ښه ډول سرته رسولو او د اسلامي امارت د بقا لپاره د خدمت اړوند مهمې او ارزښتناکې ویناوې وشوې.

د یادونې وړ ده چې د سترې محکمې د دعوت او ارشاد ریاست پلاوي په ۲۰/ ۴/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه د پکتیکا ولایت د مرافعه محکمې لپاره د دعوت او ارشاد برخې آمر وټاکه او په دې سره د یاد پلاوي ولایتونو ته پیل شوی سفر پای ته ورسېد.

## د کابل ښاري ابتدائیه محکمې د څلورم زون لخوا یوه متهم ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د کابل ولایت د مرافعه محکمې اړوند د کابل ښاري ابتدائیه محکمې څلورم زون جزا دیوان د الف جز د پرېکړې په اساس په ۲۱/ ۴/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه یو کس چې پر لواطت متهم و؛ تعزیري سزا ورکړل شوه.

د کابل ښاري ابتدائیه محکمې څلورم زون د جزا دیوان یاد متهم پر دوه کاله تنفیذي بند او ۳۹ دُرو تعزیري سزا محکوم کړی و.

د تعزیري سزا یاد حکم د سترې محکمې د عالي مقام له تائید وروسته پر متهم تطبیق شو.

## حکم جزای تعزیری بالای دو متهم در ولایت تخار تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی فرخار ولایت تخار به شمول یک زن بالای دو تن که متهم بر زنا بودند؛ به تاریخ ۲/ ۵/ ۱۴۴۶هـ ق در چمن شاروالی ولسوالی متذکره حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

محکمهٔ ابتدائیه هر دو متهم را به ۳۹- ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بودند؛ که این حکم بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه بالای متهمین در محضر عام تطبیق شد.

## په ننګرهار ولایت کې دوو متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې دوو کسانو ته چې په زنا متهم وو؛ په ۲۶/ ۴/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه.

ابتدائیه محکمې د یادو متهمینو له ډلې یوه ښځه پر ۳۵ دُرو تعزیري سزا او یو نارینه پر ۳۹ دُرو تعزیري سزا محکوم کړی و.

د تعزیري سزا د تطبیق په موخه جوړه شوې غونډه کې د یادې محکمې رئیس مولوي شمس الاسلام، مفتي، محرر او اداري کارکوونکو، د یادې ولسوالۍ ولسوال، د استخباراتو مدیر، امنیه قوماندان، د یادې ولسوالۍ کارکوونکو او مراجعینو ګډون درلود.

یاده پرېکړه د سترې محکمې د عالي مقام له تائید وروسته پر متهمینو تطبیق شوه.

## حکم جزای تعزیری بالای یک متهم در ولایت فاریاب تطبیق شد

به اساس فیصله محکمهٔ ابتدائیه ولسوالی دولت آباد ولایت فاریاب بالای یک تن که متهم بر زنا بود؛ به تاریخ ۲۴/ ۴/ ۱۴۴۶ هـ ق در محضر عام حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

محکمهٔ ابتدائیه متهم مذکور را به چهار ماه حبس تنفیذی و ۳۵ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بود؛ که این حکم بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه بالای متهم تطبیق شد.

گردهمایی که به همین منظور دایر گردیده بود؛ الحاج مولوی علی گل (حمیدی) رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ، قضات، مفتیان، مسؤولین ملکی، نظامی و جمع کثیری از مردم عام حضور داشتند.

در ادامه این گردهمایی فیصله محکمه ابتدائیه و تائیدی مقام عالی ستره محکمه به خوانش گرفته شد.

گردهمایی متذکره بعد از تطبیق جزای تعزیری به دعا خیر خاتمه یافت.

## حکم جزای تعزیری بالای چهار تن از مجرمین و متهمین در ولایت پروان تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی سیدخیل ولایت پروان، به شمول یک زن بالای دو تن به جرم فرار از منزل و دو تن دیگر که متهم بر لواطت بودند؛ به تاریخ ۲۴/ ۴/ ۱۴۴۶ هـ ق در مقر محکمهٔ مذکور حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

محکمهٔ ابتدائیه دو مجرم را به شش- شش ماه حبس تنفیذی و ۳۹- ۳۹ دُره جزای تعزیری و دو متهم دیگر را به یک- یک سال حبس تنفیذی و ۳۹ - ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بوده.

حکم محکمهٔ ابتدائیه با حضورداشت محترم مولوی میرآقا مشهور به ذبیح الله (خالد) رئیس محکمهٔ مرافعه، چندین تن از علماء کرام، کارمندان ملکی و نظامی و شماری از باشندگان محل تطبیق گردید.

## د کابل ښار د سندونو او وثیقو د ثبت شپږو آمریتونو په دوو اونیو کې (۱۵۸۴) ببلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي

د کابل ښار د سندونو او وثیقو د ثبت شپږو آمریتونو په دوو اونیو کې له (۱/ ۴/ ۱۴۴۶هـ ق څخه تر ۱۵/ ۴/ ۱۴۴۶هـ ق نېټې پورې (۱۵۸۴) ببلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**۱- د سندونو او وثیقو د ثبت لومړی حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت لومړۍ حوزې په دوو اونیو کې (۲۱۴) نکاح خطونه او (۷۲) نورې ببلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۲- د سندونو او وثیقو د ثبت دویمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت دویمې حوزې په دوو اونیو کې (۱۲۱) نکاح خطونه، (۱۵) زوجیت خطونه او (۵۰) نورې ببلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۳- د سندونو او وثیقو د ثبت دریمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت دریمې حوزې په دوو اونیو کې (۱۵۹) نکاح خطونه، (۲۶) زوجیت خطونه او (۱۰۲) نورې ببلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۴- د سندونو او وثیقو د ثبت څلورمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت څلورمې حوزې په دوو اونیو کې (۱۸۸) نکاح خطونه، (۷) زوجیت خطونه او (۸۲) نورې ببلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۵- د سندونو او وثیقو د ثبت پنځمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت پنځمې حوزې په دوو اونیو کې (۱۷۲) نکاح خطونه، (۱۷) زوجیت خطونه او (۸۸) نورې ببلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۶- د سندونو او وثیقو د ثبت شپږمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت شپږمې حوزې په دوو اونیو کې (۱۹۲) نکاح خطونه، (۷) زوجیت خطونه او (۴۳) نورې ببلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

## محاکم ولایت غزنی طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۲۷۱) دوسیه، به تعداد (۲۳۹) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصۀ اجراآت قضائی محاکم ولایت غزنی، دواوین محکمۀ مرافعه، وثایق، محکمۀ ابتدائیۀ شهری، محکمۀ نظامی زون غزنی و محاکم ابتدائیۀ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱/ ۴/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۱۵/ ۴/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۱۳) دوسیۀ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۸۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵۵) دوسیه فیصله شده، (۲۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی‌مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۲۱) دوسیۀ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۵۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۱) دوسیه فیصله شده، (۱۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی‌مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت غزنی به تعداد (۲۳۹) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت تخار طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۳۹۰) دوسیه، به تعداد (۲۵۱) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصۀ اجراآت قضائی محاکم ولایت تخار، دواوین محکمۀ مرافعه، وثایق، محکمۀ ابتدائیۀ شهری و محاکم ابتدائیۀ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱/ ۴/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۱۵/ ۴/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۷۱) دوسیۀ حقوقی مورد رسیدگی قرار گرفته است.

از آن جمله در رابطه به (۱۸۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۳) دوسیه فیصله شده، (۲۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی‌مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۱۹) دوسیۀ جزائی مورد رسیدگی قرار گرفته است.

از آن جمله در رابطه به (۳۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۸۱) دوسیه فیصله شده، (۷) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی‌مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت تخار به تعداد (۲۵۱) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## د زابل ولایت محاکمو په دوو اونیوکې (۱۳۳) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۸۳) وثیقې هم اجرا کړې دي

د زابل ولایت د مرافعه محکمې، ښاري محکمې، نظامي محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې له (۱/ ۴/ ۱۴۴۶ هـ ق څخه تر ۱۵/ ۴/ ۱۴۴۶ هـ ق) نېټې پورې (۱۳۳) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۸۳) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په دوو اونیو کې (۱۷۳) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۳۹) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۴۲) دوسیې فیصله شوې، (۱۲) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په دوو اونیو کې (۵۰) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۲) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۲۴) دوسیې فیصله شوې، (۴) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د زابل ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۸۳) وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم ولایت سرپل طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۱۴۴) دوسیه، به تعداد (۱۳۹) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصۀ اجراآت قضائی محاکم ولایت سرپل، دواوین محکمۀ مرافعه، وثایق، محکمۀ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیۀ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱/ ۴/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۱۵/ ۴/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۱۷) دوسیۀ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۶۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۵) دوسیه فیصله شده، (۱۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی‌مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۸۰) دوسیۀ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۲۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۵) دوسیه فیصله شده و دوسیه های باقی‌مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت سرپل به تعداد (۱۳۹) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت کندز طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۷۹۳) دوسیه، به تعداد (۳۹۳) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصۀ اجراآت قضائی محاکم ولایت کندز، دواوین محکمۀ مرافعه، وثایق، محکمۀ ابتدائیۀ شهری و محاکم ابتدائیۀ ولسوالی‌ها از تاریخ (۳۰/ ۳/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۳۰/ ۴/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۵۴۶) دوسیۀ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۲۸۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۳۷) دوسیه فیصله شده، (۲۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندۀ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۳۶۶) دوسیۀ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۶۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۷۹) دوسیه فیصله شده، (۱۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندۀ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت کندز به تعداد (۳۹۳) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## د سمنګان ولایت د حقوقو آمریت په یوه میاشت کې (۳۱۴) دوسیو او عرض‌پاڼو ته رسېدنه کړې ده

د سترې محکمې د حقوقو عمومي ریاست اړوند د سمنګان ولایت د حقوقو آمریت په یوه میاشت کې له (۱۹/ ۳/ ۱۴۴۶ هـ ق څخه تر ۱۹/ ۴/ ۱۴۴۵ هـ ق نېټې) پورې (۳۱۴) دوسیو او عرض‌پاڼو ته رسېدنه کړې ده؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**د عرض‌پاڼو په برخه کې:**

د سمنګان ولایت د حقوقو آمریت په یوه میاشت کې د مدني، فامیلي او سوداګریزو دعواوو په برخه کې (۱۷۸) عرض‌پاڼو ته رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه (۶۲) عرض‌پاڼې اصلاح او ابرا شوې، (۵۳) عرض‌پاڼې محاکمو ته لېږل شوې، (۸) عرض‌پاڼې نورو ادارو ته راجع شوې، (۵۵) عرض‌پاڼې حفظ شوې او پاتې عرض‌پاڼې تر اجراآتو لاندې دي.

**د دوسیو په برخه کې:**

د سمنګان ولایت د حقوقو آمریت په یوه میاشت کې د مدني، فامیلي او سوداګریزو دعواوو په برخه کې (۱۳۶) دوسیو ته رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه (۱۵) دوسیې تطبیق شوې، (۳۹) دوسیې محاکمو ته لېږل شوې، (۲۹) دوسیې نورو ادارو ته راجع شوې، (۵۳) دوسیې حفظ شوې او پاتې دوسیې تر اجراآتو لاندې دي.

## محاکم ولایت پروان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۱۹۶) دوسیه، به تعداد (۳۲۱) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصۀ اجراآت قضائی محاکم ولایت پروان، دواوین محکمۀ مرافعه، وثایق، محکمۀ ابتدائیۀ شهری و محاکم ابتدائیۀ ولسوالی‌ها از تاریخ (۹/ ۴/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۲۱/ ۴/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۲۶) دوسیۀ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۷۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۶) دوسیه فیصله شده، (۱۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی‌مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۷۹) دوسیۀ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۰) دوسیه فیصله شده، (۷) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی‌مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت پروان به تعداد (۳۲۱) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت بادغیس طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۶۹۹) دوسیه، به تعداد (۲۷۵) وثایق نیز اجرا نموده است

خلاصۀ اجراآت قضائی محاکم ولایت بادغیس، دواوین محکمۀ مرافعه، وثایق، محکمۀ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیۀ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱۹/ ۳/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۱۹/ ۴/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۴۵۲) دوسیۀ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۴۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۸۵) دوسیه فیصله شده، (۳۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی‌مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۲۰۸) دوسیۀ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۲۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۸۱) دوسیه فیصله شده، (۳۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی‌مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بادغیس به تعداد (۲۷۵) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

سرپرست مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیتور: جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

لا إله إلا الله محمد رسول الله

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## د سترې محکمې د جزا دیوان عمومي رئیس پنجشیر ولایت ته سفر وکړ

د سترې محکمې د جزا دیوان عمومي رئیس محترم مفتي عتیق الله (درویش) چې مفتي عبدالحی (شاکر) او مفتي فضل الرحمن قاسمي یې ملتیا کوله، د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب په ځانګړې هدایت په ۲۷ /۴/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه د امارتي ادارو د مسؤولینو ترمنځ د همغږۍ د تقویې او یو شمېر جزائي دوسیو د حل او فصل په موخه پنجشیر ولایت ته سفر وکړ.

د جزا دیوان عمومي رئیس د یاد سفر پر مهال یوه لویه غونډه کې چې د پنجشیر ولایت مقام کې د امارتي ادارو ترمنځ د همغږۍ د تقویې په موخه جوړه شوې وه او د پنجشیر محترم والي، د والي مرستیال، د مرافعه او اړوند محاکمو رئیسانو، امنیه قوماندان، د لیوا قوماندان، ولسوالانو، د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکایاتو د اوریدو، د علماوو شورا او د استخباراتو رئیسانو او نورو ټولو اړوند امارتي ادارو مسؤولینو په کې شتون درلود، ګډون وکړ.

محترم مفتي عتیق الله (درویش) یادې غونډې ته د خبرو پر مهال له ټولو مسؤولینو غوښتنه وکړه چې د اصولو په رڼا کې د چارو د ترسره کولو لپاره دې له یو بل سره قوي همغږي ولري، ځکه د ځینو چارو ترسره کول د څو ادارو له همغږۍ او همکارۍ پرته ناشوني دي.

نوموړي له ټولو ولایتي مسؤولینو غوښتنه وکړه چې د هېوادوالو ستونزو ته دې په ټاکلي وخت رسېدنه کوي، له مراجعینو سره دې نېک چلند کوي او په خپل ټاکلي وخت دې دندو ته حاضرېږي.

دغه راز محترم مفتي درویش د ولایتي ادارو مسؤولینو ته هدایت وکړ چې خپلو منځو کې د قوي همغږۍ له لارې د جرایمو کچه صفر ته راښکته کړي.

د جزا دیوان رئیس د غونډې ګډونوالو ته د محاکمو د کاري استقامت او په چارو کې د شفافیت په اړه بشپړ معلومات ورکړل وویل، د افغانستان اسلامي امارت محاکم د شرعي اصولو په رڼا کې پرېکړې کوي.

په دې سربېره د پنجشیر محترم والي، د علماوو شورا، مرافعه محکمې رئیسانو، امنیه قوماندان او یو شمېر نورو مسؤولینو هم له یو بل سره د غوره تعامل، همکارۍ او همغږۍ پر ګټو تفصیلي خبرې وکړې او ټولو ژمنه وکړه چې په دې برخو کې هر ډول اصولي اجراآتو او همکاریو ته ژمن دي.

د پنجشیر ولایتي مسؤولینو د همغږۍ دغه ډول ناستې ډېرې ګټورې وبللې او د همغږۍ د غونډو د دوام غوښتنه یې وکړه.

دغه راز د سترې محکمې د جزا دیوان عمومي رئیس له دې غونډې وروسته په پنجشیر ولایت کې دوې مهمې جزائي دوسیې هم حل او فصل کړې.

## د لغمان او دایکندي ولایتونو د حقوقو آمریتونو په یوه میاشت کې (۴۵۲) دوسیو او عرض‌پاڼو ته رسېدنه کړې ده

د سترې محکمې د حقوقو عمومي ریاست اړوند د لغمان او دایکندي ولایتونو د حقوقو آمریتونو په یوه میاشت کې له (۱۸/ ۳/ ۱۴۴۶ هـ ق څخه تر ۱۸/ ۴/ ۱۴۴۵ هـ ق نېټې) پورې (۴۵۲) دوسیو او عرض‌پاڼو ته رسېدنه کړې ده؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**د عرض‌پاڼو په برخه کې:**

د لغمان او دایکندي ولایتونو د حقوقو آمریتونو په یوه میاشت کې د مدني، فامیلي او سوداګریزو دعواوو په برخه کې (۴۱۹) عرض‌پاڼو ته رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه (۱۱۷) عرض‌پاڼې اصلاح او ابرا شوې، (۱۳۰) عرض‌پاڼې محاکمو ته لېږل شوې، (۱۰) عرض‌پاڼې نورو ادارو ته راجع شوې، (۱۶۲) عرض‌پاڼې حفظ شوې او پاتې عرض‌پاڼې تر اجراآتو لاندې دي.

**د دوسیو په برخه کې:**

د لغمان او دایکندي ولایتونو د حقوقو آمریتونو په یوه میاشت کې د مدني، فامیلي او سوداګریزو دعواوو په برخه کې (۳۳) دوسیو ته رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه (۸) دوسیې تطبیق شوې، (۵) دوسیې محاکمو ته لېږل شوې، (۵) دوسیې نورو ادارو ته راجع شوې، (۱۵) دوسیې حفظ شوې او پاتې دوسیې تر اجراآتو لاندې دي.

## د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ۹**


**نېټه: ۱۴۴۶/۳/۲۲ هـ ق**

د سترې محکمې د تمیزونو، ریاستونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د محاکمو د فیصلو په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی فرمان.

د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام لخوا د محکمو د هغو فیصلو په هکله چې د اصولو خلاف صادري شوي وي، یا یې په حکم کې اصولي مخالفت وي او یا هم د اقرار په وثیقه کې یې شبهه موجوده وي، په اړه یې پنځه مادئیز فرمان نمبر (۵) مورخ ۱۴۴۶/۲/۲۲ هـ ق صادر شوی، ددې متحدالمآل په (۲) ورقو کې تاسو ته د اصولي کړنو په موخه واستول شو.







میزان

د لیکول پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc١٤٤٣@gmail.com

www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱ ۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳